# د پښتونخوا مقدمه

هدایت الله خان

په اوسنو عامو انتخاباتو کښې پښتونخوا کښې د اې این پي د کامیابې حکومت سازۍ او د پښتونخوا نوم د غوښتنې سره سم په ذرائع ابلاغ او خصوصاً په اخبارونو کښې یو وار بیا غوبل جوړ شو او د پښتونخوا نوم په مخالفت کښې مسلسل مضامین چاپ کېدل شروع شو خو د دې اخبارونو پاڼې د دوېم نقطۀ نظر د اظهار نه خالي دي. په مخالفت کښې خیال زغلونکي خلق دوه قسمه دي، یو هغه چې د پښتونخوا د نوم د مخالفت په وخت د تهذیب او شائستګۍ په دائره کښې اوسي، د دې خلقو شمېر ډېر کم دے، اکثریت د دوېم قسم د روایتي مخالفینو یا د دوي نه متاثرو هغه خلقو دے کوم چې د پښتنو د نوم د پېدائشي او انساني حق د مخالفت کولو په وخت په مخصوص روایتي انداز کښې خپل پسمانده او پرېوتے ذهنیت ښکاره کوي. د دې خلقو د دې لیکونو نه صفا پته لګي چې دوي د پښتونخوا یا پښتونستان په حواله په مجموعي ډول د پښتنو د قومي، ملي او جغرافیائي تاریخ د تفصیلاتو، حقائقو او خصوصاً د صوبه "سرحد" په جغرافیائي او لساني پس منظر کښې د پښتون اکثریت او غېر پښتون اقلیت په حقله د صحیح اعدادو شمار نه پوره خبر نۀ دي.

دلته د پام وړ خبره دا ده چې د پښتونخوا د نوم د مخالفت په حواله د اظهار رائې د حق استعمال او په دې سلسله کښې د حقائقو او اعدادو شمار نه ناخبري خو یو طرفته خو د مخالفانه نقطۀ نظر بیانولو په وخت په مینځ مینځ کښې د برصغیر د ازادۍ د مبارزې د عظیم مجاهد او د پښتون ملت جلیل القدره هستۍ باچاخان په حقله نازېبا او غلیظه ژبه استعمالول نۀ خو په هیڅ صورت کښې د برداشت قابله خبره ده او نۀ دا د رائې د اظهار په حقونو کښې شامله ده.

په پاکستان کښې د تېرو شپېتو کالو په دوران کښې چې د قام پرستو او د صوبو او قامونو د مبارزه کوونکو خلاف د پروپېګنډې دپاره د کومو خودساخته او په منفي سوچ اړه لرونکو نعرو استعمال وشو، هغې د یو مخصوص مکتبۀ فکر خلق راپېدا کړل. نن او د دې نه وړاندې چې کله هم د پښتنو د وطن د نوم مسئله راوچته شوې ده نو په ذرائع ابلاغ د دغه مکتبۀ فکر قابضو تش په نوم دانشورانو د دې منفي سوچ لاندې د دې مخالفت کړے دے. د نوم په مسئله د رائې د اظهار کولو په وخت دا خبره په نظر کښې نیول بې حده ضروري دي چې دا مسئله نۀ خو د لساني نوعیت ده او نۀ د کومې خاص سیاسي پارټۍ یا ډلې سره تعلق لري. په اصل کښې دا د یو قام په تاریخي او جغرافیائي تناظر کښې د هغوي د پېژندګلو دحق مسئله ده. نو ځکه په دې حواله تر ننه د ښکاره کړے شوو شکونو

او تحفظاتو د جواب ورکولو نه وړاندې د پښتون قام او د هغهٔ د جغرافیائي تاریخ تجزیه کول ضروري دي.

د قدیم تاریخي تحقیق خصوصاً د یوناني مؤرخینو د تحقیق مطابق پښتون د وسطي ایشیائي ریاستونو د پُولو نه واخله تر د اباسین نه پورې علاقو پورې د خور وطن قدیم ترین قام دے. د وخت سره سره د تاریخ په مختلفو دورونو کښې پښتنو په دې سیمه نور قامونه هم ځائے کړل. د پښتنو دا جغرافیائي مسکن د خپلې محل وقوع یعنې د آمو نه هغه غاړه او د اباسین دې غاړه سیمو تر منځه د زمکې د لارې د رابطې یوه ذریعه ده. په دې وجه د فوځي مهم جویۍ دپاره د زړهٔ راښکونکو خصوصیاتو لرلو په وجه د دنیا یوه انتهائي حساسه سیمه وه، په دې وجه د پښتنو وطن د دې جغرافیائي حساسیت له کبله همېشه د تاریخ په مختلفو دورونو کښې د فوځي طاقتونو د معرکه ارایۍ مرکز او د ګریټ ګېم او فارورډ پالیسۍ سټیج پاتې شوے دے او دغه سلسله تر اوسه روانه ده.

د پښتنو دې وطن د اوولسمې صدۍ تر اخره د یو ملک یا ریاست وجود نهٔ لرهٔ او په مختلفو علاقو کښې د مختلفو قبیلو خپله خپله عملداري قائمه وه. دغه شان د یو ریاست په ځائے دا د ډېرو قبائلي ریاستونو یوه مجموعه وه، دا هغه زمانه وه چې د هرات او کندهار سره سره د افغانستان په اکثرو سیمو پرشئین (ایرانیان) قابض وو. د جدید پښتون تاریخ یاد هیرو میرویس بابا په **1703-1704** کښې د دې علاقو نه پرشئین (ایرانیان) وویستل او د افغانستان د ازادۍ بنیاد ئې کېښود خو د دې نه پس د اتلسمې صدۍ د وړومبۍ نیمایۍ یعنې **1747** پورې هندوستان ته د ځان رسولو په غرض نادر شاه افشار د افغانستان په ډېرو علاقو قابض پاتې شو. په هندوستان د مهم جویۍ په دوران کښې د نادرشاه افشار د قتل نه پس **1747** کښې عظیم پښتون هیرو احمد شاه ابدالي ټول پښتانهٔ قبائل رایو کړل او په وړومبي ځل ئې د افغانستان د ریاست یا سلطنت بنیاد کېښودو او د تاریخ په پاڼو کښې ئې خپل نوم د افغانستان د باني په توګه خوندي کړو. په دغه دوران کښې د هندوستان مغلیه سلطنت مخ په زوال ؤ. د مرهټه فوځي طاقت له لاسه مسلمانانو ته د ځان او اسلام د بقا کشاله ورپېښه وه نو ځکه د افغانستان د ټولو جغرافیائي او قبائلي اکایانو دا رایوځائے کولو نه پس احمد شاه بابا په هندوستان حمله وکړه او په **1760/61** کښې ئې د مرهټو فوځي قوت د تل دپاره ختم کړو او دغه شان مسلمانانو ته پېښه مسئله ئې د تل دپاره ختمه کړه. دلته د دې خبرې احساس ورکول په ځائے دي چې د پښتونخوا نوم د مخالفو ښاغلیو دانشورانو دپاره دا د فکر خبره ده چې د کوم قام د شناخت او نوم نه دووي انکاري دي، هغه قام د خپل عظیم هیرو په مشرۍ کښې په هندوستان کښې د مسلمانانو او اسلام د بقا سوب جوړ شوے دے. د هغوي په وجه چې دوه سوه کاله پس د مسلمانانو په نوم د کوم ملک وجود ممکن شو، د هغه ملک د سالمیت او یووالي په نوم د دې قام د نوم نه انکار کولے شي. خبر د خبرې مطلب دا ؤ چې هغه وخت کښې احمد شاه بابا د اباسین نه پورې د غرونو سلسله د هندوستان سره د پښتون وطن برید مقرر کړو. د پښتنو د وطن په معنو کښې د پښتونخوا لفظ استعمال په وړومبي ځل احمد شاه بابا د جهلم

په غرۀ د کېمپ په دوران کښې د هلته نه واخله د آمو درياب پورې پرتې علاقې ته پښتونخوا وئيلو سره وکړو. ياده دې وي چې په زمکه د يو واضحه او قدرتي کرښې په وجه اباسين په عملي توګه د هندوستان سره د افغانستان پُوله ګڼلې شوه. د جغرافيې دا صورت حال 1760 نه واخله تر 1893پورې ئې د موجوده صوبه سرحد بندوبستي علاقې په خپله عملدارۍ کښې شاملې کړې او د صوبه پنجاب په انتظام کښې ئې ورکړې.

د نولسمې صدۍ ختمېدو په وخت زار روس د وسطي ايشيا يعنې بخارا، سمرقند او جنبوا پورې پښې راوغزولې او پېرنګې سامراج ئې په روسو فوبيا اخته کړو. د دې سره د پښتون په زمکه د دواړو طاقتونو ترمنځه د ګرېټ ګېم اغاز وشو. په دې لوبه کښې د برې ترلاسه کولو دپاره چې پېرنګي سامراج د کومې فارورډ پاليسۍ بنياد کېښودو د دغه ځائے نه د پښتون قوم د بدقسمتۍ قيصه شروع شوه. د دې قيصې په بابونو کښې د پښتنو د قومي او جغرافيائي وحدت ماتېدل، د سياسي اصلاحاتو او حقونو نه محرومي او د نورې دنيا نه ځان له پاتې کېدل شامل دي. 1893کښې د ډېورنډ د لوظنامې لاندې د ځوارلس سوه ميله اوږدې کرښې په ذريعه پښتانۀ قبائل د افغانستان نه راوشوکولې شول. د دې نه پس په 1901 کښې د موجوده صوبه سرحد بندوبستي ضلعې د پنجاب نه جدا کړې شوې. يوه نوې صوبه (شمال مغربي سرحدي صوبه) قائمه کړې شوه. د دې سره يو طرف ته د برطانوي هندوستان اهم ترينه پُوله په وجود کښې راغله او بل طرف ته د پښتون د قومي وحدت د ماتېدو عمل مکمل شو. دغه شان پښتون ځلور ټوټې شو يعنې افغانستان، بلوچستان، قبائل او بندوبستي ضلعې، د دې ټول تمهيد مقصد دا اهمه نکته په ګوته کول دي چې پښتون يا افغان قوم د آمو او اباسين ترمنځه د پرتې ټولې سيمې قديم ترين قام دے او د دې پېژندګلو، نوم او شناخت سره په دې جغرافيه کښې دننه د زرګونو کالو راهسې اوسېږي. زرګونه کاله پخوانے د هندو مت کتاب رګ وېد وي کۀ د يوناني مورخينو مرتب کړے تاريخ، د ټولو مندرجات د دې حقيقت ثبوت دے چې دا علاقه د زرګونو کالو راهسې د پښتون قام مسکن دے. البته په دې ضمن کښې د ماضي قريب د تاريخ نه د 1747 نه تر 1901پورې يوه نيمه صدۍ دور د زيات اهميت وړ دے. په دې دوران کښې په ګاونډي قامونو کښې هم دا نوم د دې خطې د شناخت په توګه مستعمل ؤ.

د دې پس منظر په رڼا کښې د پښتونخوا د نوم د مسئلې او په دې حواله د مخالفانه اپروچ تجزيې کولو نه وړاندې دا خبره ياد ساتل پکار دي چې په دې حقله چې تر اوسه په اخبارونو کښې د کومو خيالاتو او تحفظاتو اظهار شوے دے هغه د دغه مکتبۀ فکر د مخصوص منفي او تنګ نظره، متعصبانه او غېر حقيقت پسندانه سوچ نتيجه ده. د دې سوچ د اثر لاندې په مجموعي توګه تر اوسه دا نکات رامېنځ ته شوي دي.

1. د پښتونخوا په نوم کښې د باچا خان د ازاد پښتونستان تصور پټ دے.
2. پښتونخوا نوم د پاکستان د نظرياتي اساس سره متصادم دے.
3. د پښتونخوا په ځائے دې صوبه سرحد له اباسين، خېبر، اسلاميه و غېره نومونه کېښودے شي.

4. د صوبه سرحد عوامو د 1947 په ريفرنډم کښې د پښتونخوا غوښتنې کوونکو ته ماتې ورکړې وه او د صوبه سرحد الحاق ئې د پاکستان سره کړے ؤ.
5. په صوبه سرحد کښې د پښتنو نه علاوه نورې ژبې ويونکي هم په ګڼ شمېر کښې اوسېږي. د دې نوم سره به دلته لساني تعصب خور شي.

راځئ چې اوس د دې شکونو او تحفظاتو ځان له ځان له جائزه واخلو.

1) د پښتونخوا په نوم کښې د باچا خان د آزاد پښتونستان تصور پټ دے.

دې اعتراض ته په يو خاص تناظر کښې کتل پکار دي، د پاکستان جوړېدو سره مسلم ليګ او د پاکستاني اسټېبلشمنټ اجزائي ترکيبي (پنجاب، فوځ او مهاجر بېوروکرېسي) د خپلو مخصوصو مفاداتو په غرض د قامي حقونو د مبارزې غېر موثر کولو دپاره د څو خودساخته نعرو (ملکي سالميت، يکجهتي، حب الوطني، نظريهٔ پاکستان، مضبوط مرکز وغېره) روايت جوړ کړو، دې منفي طرز فکر چې کومه طبقه پېدا کړه هغوي د صوبو او قامونو جائزو حقونو ته د دې نعرو په آئينه کښې کتل. مذکوره اعتراض هم د دې منفي سوچ عکاسي کوي.

په اصل کښې دې طبقې پاکستان او په خاص توګه د پنجاب ساده عوام د پښتونخوا يا پښتونستان په حواله په يو نفسياتي ويره کښې اخته کړي دي.

د باچا خان د پښتونستان تصور ته په پاکستان کښې دننه د هغهٔ د جدوجهد په تناظر کښې کتل پکار دي. دا د پښتنو د وحدت جوړولو تصور ؤ. د 1893 په معاهده کښې د 1901 د انتظامي بندوبست په ذريعه چې پېرنګي سامراج د خپلې فارورډ پاليسۍ د مقاصدو لاندې د پښتون وجود په کومو ځلورو ټوټو کښې تقسيم کړے ؤ، د هغې درې ټوټې په 1947 کښې د پېرنګي د تللو نه پس د پاکستان په برخه کښې راغلې، عجيبه دا ده چې دا درې ټوټې تر اوسه د پاکستان په انتظام کښې هم په هغه تقسيم شوي شکل کښې موجودې دي او شپېتهٔ کاله پس هم د پېرنګي د ورثې نظاره وړاندې کوي. د پاکستان دننه د باچا خان د پښتونستان د تصور محرک د هغهٔ دا خواهش ؤ چې په جغرافيائي توګه د يو بل سره تړلې خو په انتظامي توګه د يو بل نه جدا د پښتون قوم دا درې ټوټې را يوځائے کړې شي او يو وحدت ترې جوړ کړے شي. دا خواهش په قانوني، اخلاقي او انساني لحاظ سره جائز خواهش ؤ. دغه شان بندوبستي ضلعې، قبائل او د بلوچستان د پښتنو را يو ځائے کولو سره جوړېدونکے وحدت د هر پښتون خواهش دے. نن د پاکستان په وفاق کښې اوسېدونکو قامونو سره د نا انصافيو او حق تلفيو احساس نور هم ژورېږي. پاکستان او د وفاق مستقبل د دې سره تړلے دے چې د قومي حقونو او صوبائي خود مختارۍ د اواز غلے کولو نه نور لاس واخستے شي.

بنګالے قام چې مسلم ليګ ئې جوړ کړے ؤ او د پاکستان په جوړولو کښې ئې مهم کردار ادا کړے ؤ، ډېر په معصومانه انداز کښې ډېره موده خپل حقونه غوښتل خو د دوي د حقونو نه د مسلسل انکار په وجه اخر کار 1971 کښې د دوي د نوم سره د آزاد لفظ اضافه وشوه، کومو خلقو ته چې د پښتونخوا په معصومانه غوښتنه کښې آزاد

پښتونستان په نظر راځي او نورو خلقو ته ئې هم په دغه شکل کښې وړاندې کوي. کۀ د قامونو د جائزو حقونو د انکار دغه رويه هم دغسې جاري وي نو دوي دې ياد وساتي چې د عبرت او سبق دپاره د آزاد بنګال (بنګله دېش) د قيام ذلت آميز تاريخ موجود دے.

(نور بيا)

(د امجد شهزاد ترجمه)